کوم کار الله ته ډېر محبوب دی؟ هغه وفرمایل: «لمونځ په خپل ټاکلي وخت» هغه وویل: بیا کوم؟ ویې فرمایل: «بیا له مور او پلار سره نیکي»، هغه وویل: بیا څه؟ ویې فرمایل: د الله په لاره کې جهاد

له عبد الله بن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دی وایي چې: ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه وپوښتل چې: کوم کار الله ته ډېر محبوب دی؟ هغه وفرمایل: «لمونځ په خپل ټاکلي وخت» هغه وویل: بیا کوم؟ ویې فرمایل: «بیا له مور او پلار سره نیکي»، هغه وویل: بیا څه؟ ویې فرمایل: د الله په لاره کې جهاد» هغه وفرمایل: ماته یې د هغوی په اړه وویل، که ما ترې نور زیاتوالی غوښتی و، یعنې زیاتې پوښتنې مې ترې کړې وې نو خامخا به یې زیات معلومات راکړي.

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه پوښتنه وشوه چې: کوم کار الله ته ډېر محبوب دی؟ هغه وفرمایل: فرض لمونځ په خپل ټاکلي وخت چې شریعت ورته ټاکلی دی. بیا د مور او پلار سره ښېګڼه کول، چې له دواړو سره نیکي وشي، حقونه یې ادا شي، او نافرماني یې ونه شي. بیا د الله جل جلاله په لار کې د الله جل جلاله د کلمې د پورته کولو په موخه جهاد او د اسلام له دین څخه په ځان او مال سره دفاع کول او شعایر یې ښکاره کول دي. ابن مسعود رضي الله عنه وفرمایل: ماته یې پدې عملونو خبر راکړ؛ او که چېرته مې ورته ویلي و چې بیا کوم؟ نو خامخا به یې راته زیات کړي وو.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3365

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee